# د ژبو مشترک کلمات

د ژبو پېژندلو فن اوس په دنيا کښې تقريباً مثبت رنګ موندلئ دئ او لکه نور ثابت علوم چې پر تجربوي اساسو او مشاهداتو متکي دي دا علم هم ورو ورو د ساينس رنګ مومي او مثبت اساسونه ورته وضع کيږي.

يو له هغو مثبتو اساسو څخه چې اوس په دې علم کښې د رياضي د فورمول په ډول مثل سوئ دئ دا دئ چې د ژبو الفاظ او کلمات کټ مټ د نورو ژونديو مخلوقاتو په ډول د ژوندانه مخصوص نواميس او قواعد لري او د فطرت احکام پر دوی عيناً د نورو کايناتو په ډول جاري دي.

مثلاً که يو سړی له سړې ځمکي څخه هجرت وکړي او په تووده ځمکه کښې و اوسي، د دغه نوي محيط اوبه او هوا او اقليم ژر اغېزه پر کوي او د ده رنګ او څېره د نوي چاپېر سره سميږي، که سپين وُ توريږي که خورب وُ وچيږي. د دې سړي په پښت او اولاده کښې دا اثر په خوار ښه توګه ښکاري او هر څوني چې دوی په دغه نوي محيط کښې پاتيږئ محيط په دوی کښې خپلي اغېزي ښکاره کوي او خپل احکام پر جاري کوي.

الفاظ او کلمات هم دغسې دي د محيط سره تطابق مومي او هر نوي محيط ته چې ولاړ سي د هغه ځای شکل پيدا کوي او ځانته مخصوصه بڼه او زوړ رنګ له لاسه باسي.



د انتقال او اقتباس قانون چې په نورو کايناتو کښې جاري او ساري دئ په کلماتو کښې هم کټ مټ ليدل کيږي بلکې پر کلماتو او الفاظو باندې دا د فطرت حکم تر تطابق محيط دمخه تطبيق کيږي لمړی يوه کلمه نوی محيط ته انتقال کوي وروسته نو مطابقت ورسره مومي. نو دا له ابتداء څخه د انسان حياتي کار دئ چې له خپلو ګاونډيانو او چارچاپېر څخه اقتباس کوي، وروسته ئې پر خپل احتياج برابره وي نوی شکل ورکوي او په نوې بڼه کښې اچوي.

د انسانانو او ملتونو ژوندون تل تطور مومي د دوو ګاونډيو اولسو د ژوندانه ټول شيان سره ورته او سره نژدې وي.

د ژبو لغات هم تل سره ګډيږي او په اجتماعي او تجارتي روابطو کښې چې د دوو ملتو د خلکو تګ راتګ سره جاري وي ځيني لغات او کلمات يو له بله سره اخلي کله کله دا لغات ډيري ليري ځمکي ته هم سفر کوي او په يوه خورا ليري ژبه کښې هم ځان ورګډوي.

هم د دغه اجتماعي او محيطي تعامل د انتقال اثر دئ چې د اکثرو ژبو ځيني لغات سره مشترک وي او د يوې ژبې کلمات په بله ژبه ګډيږي. مثلاً د اروپا د اکثرو ژبو ډېر لغات له لاتيني څخه تللي دي او هغه ژبې ئې تشکيل کړي دي نو د انګليسي او فرانسوي ډېر لغات سره مشترک دي او دغسې هم د شرق د آريائي ژبو ډېر لغات له يوې ريښې څخه دي او سره مشترک دي، مثلاً د سنسکريت او د هندي نورو ژبو، د پښتو او پارسي ډېر لغتونه سره مشترک يا ډېر سره نژدې دي. د پښتو آس، د پارسي اسپ، د سنسکريت اشو څوني سره نژدې دي؟ د پښتو ډېوه او د سنسکريت ډېوه سره مشترک دي، او څکه چې هيڅ ژبه له مشترکو لغاتو او کلماتو څخه نه ده خلاصه نو آيا د يوې ژبې تخليص د نورو ژبو له اثره څخه ممکن دئ؟

زما په عقيده : يه ! او زه پر دې خبره دلايل هم لرم، چې يو له هغو څخه دا دئ : اوس علم دا خبره ثابته کړې ده چې د دنيا ټولې ژبې کورنۍ کورنۍ دي او هره ژبه ضرور په يوه کورنۍ اړه لري. د هرې کورنۍ ژبې بيا ځانته ريښه او بنسټ لري چې هغه بنسټ د يوې کورنۍ ژبو لپاره مشترک وي.

نو په دې صورت : هر ژبه خپل بنسټ ته رجوع کوي، او يو څو ژبې بايد ورسره شريکې وي، که دا خبره موږ د علم پر پاخه اساس ومنو نو د ژبې د خالص توب دعوې به پرېږدو.

مثلاً : آريايي ژبې چې په هند او افغانستان او فارس او نورو اروپايي ممالکو کښې ويلې کيږي ټولې له يوې آريايي اصلي ژبې څخه راوتلې دي نو ځکه اوس د دغو ژبو اکثر لغات سره مشترک او نژدې دي، په دغو ژبو کښې پښتو ژبه له سنسکريت او اوستا سره ډېره نژدې ده له پارسي سره هم خپلوي لري.

اوس چې موږ گورو د پښتو ډېر لغات او کلمات په هندي ژبو او پارسي کښې کټ مټ مستعمل او ژوندي دي، مثلاً : هټ او هټۍ چې د دوکان معنی لري، کلمې دي چې له سنسکريت او هندي ژبو سره مشترک دي دغسې (رود، دېوال،بنه) او داسې ډېر لغات او کلمات له پارسي سره مشترک لرو.

دا مشترک لغات زموږ دي او کورټ ئې موږ له ژبې څخه نه باسو دغسې هم له عربي څخه ډېر مفغن کلمات لرو، چې اوس زموږ سوي دي او خاص د پښتو مال دي او نه بنايي چې پردي وګڼل شي. کميس ، پاتا، ميراث ، ناره له دې ډلې څخه دي چې اوس پوره پښتو بلل کيږي.

د لغاتو د انتقال په دوره کښې د يوې ژبې سره ډېر ليرې کلمات هم ګډيږي او داسې الفاظ ورته رادرومي چې اصلاً د هغې ژبې له کورنۍ څخه هم نه وي.



مثلاً : سنسکريت چې يوه آريايي ژبه ده يعنی له آريايي کورنۍ څخه ده او عربي چې له سامي کورنۍ څخه ده په پخوانو تجارتي روابطو کښې د لومړۍ ژبې ډېر لغات عربو ته تللي او په عربي ژبه ګډ سويدي لکه د سنسکريت اپت، چندن، مشکا، کپور، تانبول چې عربي ته تللي، او د آفت، صندل، مسک، کافور، تنبول رنګونه ئې غوره کړيدي.

اوس چې موږ وګورو دغه لغت او کلمات په پښتو کښې هم سته، اپت، چندن، کاپور تول مستعمل دي نو ګويا دا الفاظ د سامي عربي ژبې او د آريايي ژبو تر منځ مشترک ګڼل کيږي او په پارسي کښې هم بيرته په عربي شکل مستعمل دي خو فقط عربي دوني کار کړي دئ چې د خپل احتياجه سره ئې شکل او رنګ ور ګرزولئ او معرب کړي ئې دئ.

داسې کلمات چې په ژبو کښې يو له بله سره اقتباس سوي دي خورا ډېر دي د مثال په ډول زه دلته فقط د يوې کلمې (پوز) سرګذشت ليکم :

"په هره ژبه کښې اصوات او حروف ځانته يو طبيعت او خاصيت لري چې زه دغه طبيعت ته د حروفو خاصيت وايم. او مقصد مې دا دئ ډېر خله چې يو څو توري سره يو ځای سي د دغه يو ځای کېدلو په اثر دوی يو لغوی مفهوم مومي، او دغه مفهوم په اکثره ژبو کښي مطردوی، نو دغه حروف چې په طبيعت کښې يوه معنا پرته وي د علم اللسان په اصطلاح "ماده" يا "عنصر" بولي.

مثلاً : د (س ، ت) په طبيعت کښې د توقف او درېدلو او بودن معانی پراته دي نو دغه عنصر په اکثرو آريايي ژبو کښې د دغه مفهوم لپاره مشترک دي د پښتو هستېدل سته، د پارسي هست، ايستادن، د انګليسي Stay او Stand او Stable او نور ډېر لغات دغه عنصر لري نو ګويا (س، ت) د توقف او بودن د مفاهيمو لپاره په آريائي

ژبو کښې عنصري توري دي. دغسې هم (پ ، ز) د لوړي او جګې لپاره عنصر ګڼل کېږي، په پښتو پوزه یا پزه ځکې بیني ته وایي چې په مخ کښې لوړه ده. پوزه د ماقبل آخر په فتحه لوړې ته وایي چې غونډۍ ئې هم بولي. په پارسي هم (پوز) د انسان او حیوان د مخ راوتلي برخې ته وایي، او دا کلمه د حیواناتو سره ډېره استعمالیږي که د انسان سره استعمال سي نو ئې مقصد توهین وي.

پوز سګ، پوز شغال، ځکه ویل کیږي چې د دغو حیواناتو (پوز) راوتلی وي پوزه هم په پارسي هر هغه شی ته وایي چې لکه (پوز) دغسي راوتلی وي په پهلوي ژبه کښې هم (پوز) په دغه معنی مستعمل ؤ. (فرهنګ نظام)

له دې څېړنې څخه تاسي ته ښکاریږي چې (پوز، پوزه، پزه) له آریایي ریښې څخه دي او عنصري توري ئې (پ،ز) دي. دا آریایي کلمه ډېره پخوا په عربي ژبه ګډه سوې او د انتقال تر قانون لاندي تللې ده پېړۍ پېړۍ پر تیري سوې او تر اوسه هم په عربي کښې موجوده ده.

یاقوت حموی پخپل معجم الادباء کښي د دې کلمې وجود په عربي کښي هسي لیکي : "شبهت مولای الشیخ و هو یتحدث و یقول ببوزه کذا و بیده کذا بقرد رایته الیوم ....."

نو دا آریایي (پوز) خورا پخوا په عربي کښي مستعمل ؤ او عربو لغویونو هم د "فم الکلب" په معنی راوړئ دئ (شفاء الغلیل)

اوس هم په دغه معنی په فلسطین کښي دغه کلمه مستعمله ده مثلاً که وغواړې چي سړی د توهین په ډول له خبرو خاموش کړې نو ورته وائي (سدبوزک) یعنی پوزه وتړه.

دا یوه کلمه ما د مثال په ډول دلته وښووله، په عربي، پارسي، هندي ژبو کښي داسي کلمات ډېر دي چي د تاریخي روابطو په اثر یو له بله سره اخیستي دي او اوس ئې هره ژبه خپل مال ګڼي.



ښه اوس به نو وګورو چي د مشترکو لغاتو او کلماتو په خصوص کښي موږ څه کولای سو؟

که موږ له ځانه سره د ژبي د تخلیص او بوبه کولو فیصله وکړو نو باید چي د پښتو (پزه) ور پرې کړو ځکه چي دا کلمه خو هم پارسي او هم په عربي کښي سته، حال دا چي په پښتو موږ بل نوم هم نه ورته لرو، او نه نوی نوم ورته وضع کولای سو، نو ناچاره یو چي د پښتو (پزه یا پوزه) ومنو او دا لغت له لاسه ونه باسو، په دې ډول ډېر مشترک لغات او په سوو سوو کلمات لرو چي باید پخپله ژبه کښي ئې پرېږدو، او خپل اصلي مال ئې ګڼو، او په دې ئې ونه کړو چي دا لغت خو په نورو ژبو کښي هم مستعمل دئ.

د ژبي د سپېڅلتوب او خالص کولو شوقیان په هر اولس کښي هر وخت ډېر وي مګر دا شوق او هوس کوم پوخ اساس نه لري، زما په عقیده د فطرت له سیره مخالف یو بېځایه هوس دئ.

ژبه خو په حقیقت کښي فقط د افهام او تفهیم آله ده، نو چي یو ملت په ځینو الفاظو یو له بله ښه سره پوهیږي او هیڅ مشکلات نه وي ورته څه ضرور دئ چي دوی به نوي لغات او کلمات له ځانه تراشي یا به ځیني وحشي او نامانوس الفاظ د مدني او منلو الفاظو پر ځای درووي؟ (۱)

(۱) کابل مجله، ۱۳۲۴ لمریز کال، ۲مه ګڼه، ۱ _ ۳ مخونه